

زرغونه عطا ژواک

# د راديو تيلويزيون د پخوانې خوږ ژبې وياندې اغلې زرغونه ژواک سره ځانګړې ادبي مرکه:

# مرکه وال : انجنیر عبدالقادر مسعود

زموږ په تاریخي، لرغوني او ادب پاله هیواد کې، ازادي غوښتونکو، نامتو، او اتلو میرمنو د تاریخ په اوږدو کې د خپلو انساني عواطفو، اخلاقي، تربیوي او بشر پالو ولوو او احساساتو په وسیله د انساني ژوند په بیلابیلو برخو کې د پتمنو، میړنیو نارینه وو تر څنګ د ظلم، زورواکي، بې عدالتي او توتریخوالي پر وړاندې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خپل مقاومت، عادلانه او برحقه مبارزو ته دوام ورکړئ دی، او په دې لاره کې یې اوچت ګامونه پورته کړي دي، چې د دغو اتلو او نامتو ښځینه وو نومونه د میړنیو اتلانو ترڅنګ ځلانده او تلپاتې دي. زموږ د هیواد لیکوالو او ملي سټو د دوی کارنامې ، حماسې او اتلولي په خپلو ارزښتناکو او ګټورو اثارو کې کښلي دي او په ډیره درنه سترګه یې ورته کتلي دي.

زموږ په هیواد کې دغو درنو ښځو د خپلو لوړو استعدادونو، لیاقت، پوهې او میړانې په وسیله د هیواد په بیلابیلو برخو کې ارزښتناکه او اغیزناکه ونډه اخیستې ده، چې د دوی دغه کارنده دریځ د درنښت او خورا ستاینې وړ دی.

یوه له دغو فعالو او پیژندل شویو میرمنو له ډلې څخه اغلې زرغونه عطا ژواک هم ده.

اغلې زرغونه عطا ژواک د رادیوتیلویزیون هغه پخوانۍ خوږ ژبې ویانده ده چې په خپل خوندور غږ یې د رادیو تیلویزیون په بیلابیلو خپرونو کې برخه درلوده او په دغو خپرونو کې یې څرګند تبارز درلود.

اغلې زرغونه عطا ژواک د خدای بښلي محمد دین ژواک لور او د اروابناد غلام محی الدین بارکزي لمسی ده چې پر (۱۳۳۲) لمریز کال د کابل ښار په (شهرارا) کې په یوه درنه کورنۍ کې زیږیدلې ده. دې خپلې لومړنۍ زده کړې پر (۱۳۵۲) لمریز کال د عایشی دراني په ښوونځي کې او لوړې زده کړې یې پر(۱۳۵۷) لمریز کال د اقتصاد په پوهنځي کې سر ته رسولي دي.

هغه ژوره مینه چې اغلی زرغونه عطا ژواک د ادب او فرهنګ سره لرله، د زده کړو په دوره کې همیشه به د خپل پلار سره رادیو ته هم تلله. د نطاقۍ سره یې ځانګړې مینه درلوده، په پښتو ژبه کې د خدای بښلې صایمه مقصودي او په دري ژبه کې د شفیقي محمود حبیبي نطاقي یې ډیر خوښیدله. دې به تل د خپل پلار په هڅونې په دې لاره کې اوچت ګامونه پورته کول. په پوهنتون کې پر (۱۳۵۵) لمریز کال کې په یوې کلتوري خپرونه کې چې د اقتصاد د پوهنځي له خوا جوړه شوې وه، اغلې زرغونه عطا ژواک په دې غونډه کې د پښتوژبې د نطاقۍ په برخه کې فعاله ونډه درلوده. په دې غونډه کې

زموږ د هیواد وتلی ، نامتو علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت ښاغلي ډاکټر اکرم عثمان هم ګډون درلود، دی په هغه وخت کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتو ریس ؤ. دغونډې په پای کې ښاغلي ډاکټر اکرم عثمان د اغلې زرغونه عطا ژواک نطاقي ډیره وستایله او دې ته یې بلنه ورکړه چې په رادیوافغانستان کې خپله نطاقي پیل کړي. لنډه دا چې اغلې زرغونه عطا ژواک وروسته له څه مودې رادیو افغانستان ته ولاړه د ټاکلي کمیټې له خوا د ویاندې په ازموینه کې یې ګډون وکړ او له بریالیتوب څخه وروسته یې په اونۍ کې دوه یا درې ورځې همکاري پیل کړه.

اغلې زرغونه عطا ژواک د لوړو زده کړو وروسته د کانو او صنایعو په وزارت کې خپله رسمي دنده پیل کړه. دې پر (۱۳۵۹) لمریز کال کې په رادیو تیلویزیون کې د نطاقانو په څانګه کې د ویاندې په توګه خپل رسمي کارته دوام ورکړ. په بیلابیلو خپرونو کې یې نطافي کوله او په ورستیو کلونو کې د رادیوافغانستان د اطلاعاتو او خبرونو د مدیریت غړیتوب یې درلود.

اغلې زرغونه عطا ژواک لکه زموږ نورهیوادوال د (۱۳۷۱) لمریز کال وروسته، د جهادي ډلو ټپلو د جګړو او شخړو له کبله په جرمني هیواد کې د خپلې کورنۍ سره مهاجره شوه. اوسمهال په دې هیواد کې د پردیسي شپې او ورځې سبا کوي. دې په جرمني کې هم خپل ادبي اوفرهنګي فعالیتونو ته دوام ورکړئ. نوموړې د افغاني ښځو د حقوقو د لاسته راوړنو او یوالي په برخه کې د اروپا په کچه د افغاني ښځو په ټولنه کې فعاله ونډه لري.

د اغلې زرغونه عطا ژواک د پوره پیژندګلوي په اړه ما له دې سره یوه ادبي مرکه نیولی ده، چې ستاسو د ادب او فرهنګ درنو مینه والو پام ورته را اړوم.

قدرمنې زرغونه جانې سلام.

اجازه راکړئ خپلې پوښتنې پیل کړم.

ګران انجنیرعبدالقادرمسعود صاحب ډیره مننه زما سلامونه هم ومنئ. زه ستاسو په خدمت کې یم.



**د ځواکمن قلم او ادب خاوند اروابناد استاد محمد دین ژواک**

زرغونه جاني زه غواړم خپلې پوښتني د اروابناد استاد محمد دین ژواک صاحب چې زموږ د هیواد یو تکړه ادیب، شاعر، ژورنالیست، سیاست پوه، محقق او څیړونکې وُ پیل کړم.

مهرباني ډیره مننه.

پوښتنه : اروابناد استاد ژواک صاحب د ادبي نثرونو په برخه کې ډیر ارزښتناک او ګټور اثار لري. تاسې د ده د نورو آثارو په پرتله ادبي نثرونه څه ډول ارزوئ؟

ځواب : ډیر محترم انجنیرعبدالقادر مسعود !

زه په ځان کې دا صلاحیت نه وینم چې د لوی استاد ژواک صاحب پر اثارو په تیره پر ادبی نثرونو وړ.غیږم. دې پوښتني ته دده په شان لوی لیکوال باید خبرې وکړي، خیر دلته به د څو بهرنیو او کورنیو لیکوالو خبرې د استاد ژواک په هکله وړاندې کړم چې د ده د اثارو د مینه والو تنده په ماته سي : کاندید اکادیمیسین محمد ابراهیم عطایي لیکي : د محترم ژواک منثور شعر چې د ده د خاص سبک ډیره نمایندګي کوي ،ما سبک وروایه دا خبره پر ځای ده ځکه ژواک دا حق لري چې د سبک خاوند ورته وویل سي ، متاسفانه چې موږ تر اوسه د پشتنو ادبیاتو یو منظم او ټاکلی تاریخ ندی لیکلې نو دا خبره خو لا ډیره لری ده چې د معاصرو لیکوالو سبکونو، او دهغو خاوندان سره بیل کړو. زموږ په روان ادبي شخول کې چې کله کله سامعه خراشه غرږي او رمباړې یې هم اوچتیږي د

ژواک ادبي زمزمه پر غوږو بده نه لګيږي ،دی د رازونو نړی لری خو زمزمه وايي رک ګويه دی. هلته چې د کوچی بوډۍ سره ديالوګ سازوي او د هغې په خوله وايي چې د دوی وينی په تيلو بدليږي او تيل د نازولو د سپرليو په موټرو کې مصروفيږي نو سړی نه بلکې د سړيو ټولنه د وجدان محاکمی ته راکشوي . هغه څه چې دی د کوچی په ډيالوګ کې زموږ د غير منظمو ټولنيزو په رابطه کې بيانوي وزن او دروندوالې يې د هغو حقايقو څخه په کمه ندی، چې ( اناطول فرانس ) يې د (ريفوس) په ماجرا کې بيانوي او دغه بې رمزه راز د هغو حقايقو اظهار دی چې ژواک ته د (اناطول فرانس) ، فرانسوي نثر نګار ادبي حيثيت ورپه برخه کوي. په ادبي نثر کې تصوير نګاري يو خاص فن دی ، ژواک په دغه فن کې دلوی لاس خاوند دی، د ژواک کمال خو لا دا دی چې پښتو او فارسي کې يو شانته د ليکنې قدرت لري. دا نظر د دروند خدای بخښلي (محمد ابراهيم عطايی) دی چې پر( ۱۳۶۶ ) لمريز کال د لړم پر دوهمه يې د محترم استاد ژواک پر ادبي نثرونو کړی وو. (پروفيسور ګيورکي نيودوويچ ګيرس) د مسکو د علومو د اکادمي غړی او «د علمي مشر کارکونکې» د لقب خاوند د پښتو د ادبياتو پوه او ختيځ پيژندونکی او د ډيرو اثارو ليکونکې په خپل هنري نثر کې چې پر( ۱۹۶۲ )زيږديز کال چاپ شوی داسې ليکي : محمد دين ژواک د ځوانو ليکوالو په ډله کې په زړه پوری اثار وړاندې کړي دي . دی د توان وروستی شپه د افسانی مولف دی ،پدی کيسه کې په ښکاره ډول سره د منورو پښتنو افکارو او نظرياتو ترسيم شوی دی . پروفيسور ګيرس « پښتو نثرونو کتاب » د توجه وړ بولي چی پر( ۱۹۵۷) زيږديزکال کې چاپ شوی دی. ګيرس دا کتاب لومړی ادبي نثر بولي او وايي: د ژواک دا اثر چې مدون يې دی د هنري نثر ښه بيلګه بولي او ګيله کوي چې دا کار نه شو تعقيب !! دی داهم وايي چې د «ژواک » ليکنې له هغو شاعرانو او ليکوالو څخه بيلې دي چې ګل او بلبل ،غوټی او بورا ستايي بلکې د مجرد عشق جريان له طرفدارانو څخه ندی چې د « توان وروستی شپه » اثر د دې مدعا ثبوت دی ...دی د ځينو پښتو ليکوالو په لړ کې د نوی زمانی استازی او لرليک اتل دی .( ا.س ګراسيمووا ) د مسکو د علومو د اکادمي علمي غړی د فيلالوژی کانديده ، ختيځ پيژندونکې او د پشتو اثارو ليکونکې په افغانستان کې د پښتو ژبې ادبيات چې په (۱۹۸۶ ) زيږديزکال چاپ شوی کتاب کې وايي : د ژواک د اثار و څخه په څرګنده ډول مالوميږي چې دده زيات تمايل ټولنيزو پيښو ته وقف شوی دی نو ځکه دده په هکله بايد وويل شي چې د ځينو نورو پښتنو ليکوالو په لړ کې د نوی زمانی د حقايقو ښکارندوی دی . (استاد عبدالله بختانی خدمتګار) د استاد ژواک په هکله وايي : منثور شعر که د پښتو ادب په ګل بڼ کې لرغونې عنعنه ولري او که دا په کې زموږ په لاسونو نوی کرل شوی ، زرغون شوی او غوړيدلی عصري ګل وي ،په دواړو صورتونو زموږ د ملي ادب ښکلا او غنايو ارزښتمنه پانګه ده ، د ژواک صاحب قلم د دې ژانر ډيری ښی نمونی

ایحاد کړې دي چې په خاطرو ،طنزونو ،دیالوګونو ، سپینو شعرونو ادبی میناتورونو شامل دي.

پوښتنه : اروانباد استاد ژواک صاحب لکه نورو لیکوالو د پښتو ژبې د پرمختګ ، ودې او پراختیا لپاره د نورو آثارو تر څنګ د پښتو د ژبپوهنې او ګرامر پوهنې په اړه هم ډیرښه او ارزښتناک آثار کښلي دي، او په دې برخه کې یې ډیرې هڅې تر سره کړې دي. مهرباني وکړئ په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

ځواب : استاد ژواک که له یوخوا د پښتو ژبې د ژب پوهنې او ژبې د زده کړې یا ښودلو په برخه کې پوره لس کاله د پخوانی نجات یا اوسنی امانی لیسی د پښتو ادبیاتو د زده کړې مسوولیت درلود همدا ډول یې د رادیو افغانستان له لاری تر لسو کلونو ډیر د پښتو ژبې د زده کړې لپاره یوه خپرونه درلوده ، همدغه شان د پشتو ژبې د غني فلکلور په برخه کې دپراخ کار له وجهی د څیړنملی اکادمیک لقب یې تر لاسه کړی، استاد ژواک د خپل وخت په زیاتو علمي ، فرهنګي سیمینارونولکه د خوشحال خان خټک ، بایزید روښان ، سنایي غزنوي ، د پشتو ژبې د چاپي اثارو نړیوال سیمینارد فلکلور نړیوال سیمینار او دا ډول نورو په لس هاوو علمي غونډو کې برخه اخیستي وه.

پوښتنه : تاسي د خدای ښنلي استاد ژواک صاحب د فولکلوراو فولکلورپوهنې آثارو په برخه کې څه لید لرئ؟

ځواب : دلته غواړم یوازې د استاد ژواک د فلکلوري کارونو په ترڅ کې د بیلګې په ډول پر پشتو لنډیو د ده دزیار او هڅو یادونه وکړم ،استاد د محترم محمد ګل نوري نه وروسته د پشتو د بڼ نه پر لنډیو ډیر هڅنده کار سرته رسولی هغه داچې د دوهم ځل لپاره یې ډیری نوری لنډۍ راټولی او هیوادوالو ته د ګلو د ګیډۍ په شان ډالی کړئ او دا لړۍ یی بیا هم په خپل یو تحقیقي اثر چې د افغاني موسیقي په نامه یې لیکلي دی. ده پر لنډیو باندی هڅه او هاند سرته رسولی دی چې پر دې اثر یې د محترم عبدالقدیم پتیال نظر ستاسو سره شریکوم : ( د پښتو د موسیقي پر بیلابیلو ادوارو ، پړاونو او همدغه راز په دې کتاب کې پر څلورو خاصو سندریزو مکتبونو په عملي توګه استاد څیړنه کړئ ده : چی په هغه کې د کندهار سندریز مکتب ، د ننګرهار سندریز ، د پکتیا سندریز او د لوګر پر سندریزو مکتبونو د معرفي په ترڅ کې د پښتني فلکلور په چوکاټ کې د نظم بیلابیل ډولونه هم څیړلي او په مستقیمه توګه یې د هغو تړاوو له موسیقۍ سره ښودلی دی . د دې تر څنګ په دغه اثر کې له موسیقۍ سره په ارتباط کې د پښتو لنډیو پر کمیت او کیفیت ږغیدلی او دغه لنډۍ یې پر مختلفو ډولونو ویشلې او بیایې هر شکل د اجتماعي ، سیاسي او روحاني حالاتو په رڼا کې تر بحث لاندی نیولې دي .په لنډیو کې د منظرۍ جوړولو او شکل مننی خصوصیت په لنډیوکې دانسان د غمونو هینداره ،مضمون

په لنډيو کې د وياړلو د عنعنی هستونکی د لنډيو د تغزلي مانی پر اساس مضمون ، په لنډيو کې دوياړلو د عنعنی هستوونکي د لنډيو د تغزلي مانی پر اساس مضمون ، په لنډيو کې د تغير او بدلون پر پروسی په لنديو کې د ښځې د تاريخي ،اجتماعي موقعيت پر صادق ويندويی ، په ښځينو لنډيو کې موزيکی پر ضد د ښځی اعتراض پر تاريخي سرچينی د لنډيو د ټولنيزو تفاوتو پر کړو وړو او د ځانځاني دوران په لنډيو کې د ښځی پر موقف په تفصيلي او تشريحي توګه ږغيدلی او هر سر ليک يې تر ژورې څيړنې لاندی نيولی دی ، کله چې د استاد ژواک د تشريحاتو له مخې څوک د لنډيو ماهيت ته متوجه سي بيا نو ورته څرګنديږي چې د لنډيو پرته له هغو علمي او تحقيقي ژورو معلوماتو چې د محترم اکاديميسين سليمان لايق له خوا «دپښتو لنډۍ » په نوم کتاب ليکل سوی دی دايې يوه بله په زړه پوری د منلو وړ نمونه ده چې علمي او هنري دواړه اړخونه لري، همدارنګه استاد ژواک دلنډيو په باره کې تيوريک معلومات وړاندی کړيځ. همدا ډول استاد ژواک د خپل علمی څيړنيزو کارونو په ترڅ کې زيات شمير اثار کښلي ترتيب، تدوين او چاپ کړي دي له هغو نه د پښتو متلونو ، دحنان بارګزی دديوان تدوين دسريزی کښل اوچاپ ، پرونی هنداره ، رزمز او راز لومړی برخه ، افغاني حماسه ، د رزمز او راز دوهمه برخه ، دافغاني موسيقۍ ود ادبي مکاتيبو لړی ،د ګپ شپ لړی ،او په زرهاوو نور ليکنی د هيواد دننه او بهر په مطبوعاتو کې لري.

پوښتنه : مهرباني وکړئ د خدای ښنلي استاد ژواک صاحب د تحقيقاتي او څيړنيزو آثارو په اړه په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

ځواب : استاد ژواک د نورو ډيرو څيړنيزو او تحقيقاتي کارو په څنګ کې د پښتو او انګرزيزي ګرامر هم يو پراخ څيړنيز کار سرته رسولی ؤ چې د يو کتاب په ډول خپلو هيوادوالو ته وړاندی کړئ ؤ ،همدا ډول استاد د لومړی ځل لپاره لومړی د پښتو لوست کتاب د نړيوال ميتود سره سم د ښوونځيو د څلورم ټولګيو لپاره ليکلی ؤ چې په هغو کلونو کې د يونسکو د جايزی وړ هم ګرزيدلی ؤ.

پوښتنه : د ارواښاد استاد ژواک صاحب په آثارو کې سپيڅلي اوعاطفي فکتورونو، ملي او وطني احساسات اوپيغامونه، ادبي اوهنري ځانګړتياوې زياتره انعکاس موندلي دی؟ تاسي د دغو ښکلواو نوښتګرو انځورونو اغيز په څه کې وينئ؟

ځواب : استاد ژواک يو رياليست ،ليکوال ؤ او د خپل هيواد او هيوادوالو سره يې بې پراخه اندازه مينه درلوده او همدا مينه وه، چې دی يې د خوارو او مظلو مو خواته بيوه او ليکنې يې دهغو د ژوند انعکاس ؤ ،د همدې وجې په درلودو دی دهغو ملي نهضتونو پلوی ؤ او يا يې مستقيمه ونډه پکښی درلوده چې د ده له نظره په دې ملي هڅو کې د انسان او انسانيت ، ښيګڼې پکښې نغښتی وئ ، دی دظالمو په وړاندی د خپل ليکوالی او

قلم په مرسته ولاړ انسان ؤ ،همدا شان دی د اماني نهضت ددوران زیرنده انسان ؤ، او د هغی لاری مین ؤ ،همدا ټول دلایل دده د ژوند په جوړښت کې خپل ونډه درلوده او د استاد په ټولو اثارو کې دا سپیڅلتیا له ورایه شکاري.

پوښتنه : ویل کیږي چې خدای بښلي استاد ژواک صاحب شاعر هم ؤ.خو د شعرپه پرتله د ادبي نثرونوپه برخه کې یې کارنده ونډه درلوده.تاسي د دغې دک ودلیل په څه کې وینئ؟

ځواب : د استاد ژواک منظوم اشعار ډیر لږ ؤ، د ادبي نثرونو په برخه کې د هیواد وتلي او لوړ شاعر ښاغلي صدیق کاوون توفاني نظر درسره شریکوم : ( ژواک صاحب د میني کرونګراو د خپل زړه په بیدیا کې یې د میني شین او سمسور باغ کرلی ؤ، هغه له کرکې کرکه درلوده، هغه د خپلو هیوادوالو په خوښیو خوښ او په غمونو غمجن ؤ. هغه په صمیمیت او صداقت لیکنه کوله، کله چې موږ د هغه کوم شعر ادبي ټوټه یا کیسه لولو متوجه کیږو چې هغه خپل عاشق زړه او خپله ټوله مینه په لیکنه کې ځای پر ځای کړې . د ژواک صاحب خبرې لکه د چینې اوبه رڼې او لکه د لمر وړانګې تودې او ځلانده دي . هغه په ځانګړي سبک د پښتو ادبیاتو او په ځانګړي ډول د پښتو هنري نثر ارزښتمنه شتمني ده. ) د استاد ژواک په سبک او لیکنه کې د ده دک او دلیل همدا دی.

پوښتنه : د خدای بښلي استاد ژواک صاحب پیاوړې ونډه په سیاسي فعالیتونو کې په تیره بیا د ویښ ځلمیانو په غورځنګ کې څه ډول ارزوئ؟

ځواب : خدای بخښلی استاد ژواک یو ریالیست انسان ؤ او په ټولنه کې همیش د خوارانو او مظلومو په خوا کې د ظالمو او زبیښاګرو په وړاندی ولاړ انسان ؤ دده ټول لیکلي اثار دده ددې ادعا ښه بیلګه ده ورسره استاد ژواک کورنی ماحول هم د اماني نهضت تر تاثیر لاندی ؤ او دده پلار او د کورنۍ ډیر مشران یې د شاه امان الله خان سره په ارګ کې د هغه د شاهي یانو د ډلی نه وو او دی لا دیر وړوکی ؤ چې د امان الله خان ددوستی په نامه د کابله نه د حبیب الله د سقاووی دوری د مظالمو سره مخامخ شوی ؤ. کورونه یې په زور او جبر د هغو نه واخیستل شول او دوی په خالي لاس تبعید شول.

همدا پیښو د هغه پر ژوند ډیر ژور تاثیر اچولی وو او وروسته د استاد ژواک په هکله سر محقق عبدالله بختانی خدمتګار داسي وایي: پر (۱۳۲۵) لمریز کال د دلوی په میاشت کې د ویښ زلمیانو حزب جوړ شو لومړنی اساسی مرام یې دا وو.

- دعلم اومعارف تعلیم او دافکارو تنویر

- له هر راز ظلم او رشوت سره مبارزه

- دناوړو دودونو او خرافاتو سره مجادله

- دملي وحدت د ټینګیدو لپاره هڅه

د دې حزب لومړنی مخکښان او غړي زیاتره د پښتو ژبې لیکوالان وو د استاد قیام الدین خادم ،استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدا لروف بینوا او نورو مشرانو تر څنګ د ځوانانو له جملی نه ښاغلو محمدین ژواک ، محمد موسی شفیق ،محمد ګلاب ننګرهاري او زما دپلارغوندی نورو کسانو هم برخه درلوده.

اوس به راشو ستاسو په اړه پوښتنو ته :

پوښتنه : زموږ هیواد وال ستاسي له څیرې سره د یوې خوږ ژبې او تکړه ویاندې په توګه اشنا دې. څنګه موپه دې برخه کې خپل استعداد او وړتیا ته پام شو، د خپلې نطاقی د انګیزې او پیلامې په اړه څه وویاست؟

ځواب : له کومه ځایه چې زه به یوې روڼ اندي کورنی کې زیږیدلی یم نو لا ډیره وړه وم چې ماته دا سعادت را په برخه شوو چې د خپل ګران پلار سره کله کله رادیو ته لاړه سم او د رادیو د خپرونو ، ستدیو ګانو ،سندرغاړو او ویاندو له کار او څیرو سره اشنا شم او له همدی وخته ماته د ویاندې هیله را پیدا شوله ،د لومړي ځل لپاره زه د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د ښوونکی د لمانځلو په خپرونه کې مې په ښونځي کې د لومړی وار لپاره ونډه واخیسته ، او وروسته مې د کابل پوهنتون د زده کړی په دوران کې د خپلی پوهنځی په فرهنګي خپرونه کې چې د هغه وخت دمخکشو محصلینو له خوا جوړیدله ونډه واخیستله او دهمدی خپرونی له لاری مې رادیو او تلویزیون ته د محترم داکتر اکرم عثمان دهغه وخت د اطلاعاتو او کلتور د نشراتو ریس له خوا د ویاندې ازموینې ته ولیږل شوم او بیا مې د پوهنځی په دوهم کال دې دندی ته لاره پرانیستله.

پوښتنه : تاسې نطاقي څنګه را پیژنۍ (تعریفوئ)؟

ځواب : نطاقي د ژورنالیز م له نړی څخه یو ژانر یا یوه برخه بللی شو، چې بیا هر ویاند دخپل ذوق، سلیقې او مسلکي ځانګړتیاوو په درلودو سره کولای شي چې د رادیو او تیلویزیون په خپرونو کې د ویاندې دنده سر ته ورسوي.

پوښتنه : ستاسې اصلي هڅوونکي د ویاندئ په برخه کې څوک وو، او د لومړي ځل لپاره ستاسې نطاقي له کومې خپروني څخه پیل شوه او څه احساس مو درلود؟

ځواب : زما اصلي هڅوونکي د ويانديِ په ډګر کې زما خپل ذوق او جرئت، په ښوونځې کې زما ښوونکي او ټولګيوال او د پوهنځې په وخت کې هم ځيني ښوونکي او ځيني ټولګيوال او زما خپله کورنۍ، دوستان په تيره زما خدای ښلی پلار وُ.

پوښتنه : له نيکه مرغه  تاسو په يوه روڼ انده او درنه کورنۍ  کې را لويه شوې او روزل شوې ياست، خو بيا هم تاسي ته په خپل چم او ګاونډ کې د نطاقۍ په برخه کې د شرايطو سره سم امکانات شتوالی درلود او که نه؟

ځواب : بلی زه په يوه کورنۍ کې زيږيدلی وم چې دنجونو ، لونو او زامنو د تعليم اوعلم هڅه او  هاند يې خپل د ژوند لومړنی د کاميابي ګام باله .

خو له بده مرغه زموږ ټولنه چې د نرۍ د وروسته پاتو هيوادونو نه يو  هيواد وو، اوپه خواشينی سره د افغانو ښځو ټولنيز ماحول د ډيرو ترخو او ستونزمنو حالاتو سره مخامخ وو او دی ، که کورنۍ دامنلی وای چې لونې يی يو مثبت پرمختګ ته زړه ښه کړئ او د هغه سرته رسولو ته عملي هڅې وکړي بيا په ټولنه کې د ځينو وروسته پاتو او زړو دودو دستور چې خپله توره سايه يی پر نوي نوښتونو اچولی د سختو دريځونو او غبرګونو سره لاس او مخ وي ، چې د نورو کارونو په څنګ کې د ښځو ونډه د ميديا «راديو او تيلويزيون » محيط ته ورتګ وو چې بايد دډيرو ستونزواو ربړنو  په زغملو يی دا لار پرانيستی وای ، او زما ورتګ او د کار کول هم خالي ددې ستونزو نه وو .

پوښتنه : تاسي هغه وخت چې په راديوتيلويزون کې رسمي دنده لرله، په کومو خپرونو کې مو نطاقي کوله؟

ځواب : هو ما د رايو او تلويزيون په ډيرو ثبتی خپرونو لکه د کورنۍ ژوند ،د ځوانانو ، د ښځو او ټولنی ،داقتصادی ، کرنی او مالداري ، مطبوعاتو ته يو کتنه او مستقيم خپرونکو لکه د ورځې خبرونه او د شپې خبرونو او په څنګ کې مې څه کم دری  کاله د تيلويزيون د ښځو او ټولنی د خپرونی  پروديسوري او وياندي هم کوله .

پوښتنه : ويل کيږي چې (خدای ښلي لطيفه کبير سراج) لومړۍ ښځينه ويانده وه چې په راديو  افغانستان کې يې نطاقي پيل کړه.ستاسي ليد په دې اړه څه دی؟

ځواب : د هغی درنی ميرمنی روح دی ښاد وي هغوی په ډيره ميرانه او سرښندنی لومړنی د ويآندی ګامونه پورته کړي چې افغانو ښځو په هغه وخت کې په ټولو برخو کې ډيری ستونزی او کړاونه درلودل اوورسره هغه وخت  هر چا دا جرئت هم نه درلود چې ددوی په شان دی دا لوړ او د قدر وړ ګام واخلي او لاره دی و نورو ښځو ته پرانيزي. هغی زموږ د  ټولنی د زړو او وروسته پاتو دودونو په وړاندی يوه کاميابه

مبارزه پیل او سرته ورسوله چې موږ را وروستو نسلونو او همکارانو ته نه یوازې د قدر وړ ده ورسره باید دې ته په ډیر درنښت او ویاړ هم وکتل شي .

په ځنګ کې د هغی ښکلی ږغ ، پوهه ، پر ژبې تسلط او په لوړو ادبیاتو سمبالتیا دا ټول دلایل د هغی د برياوو او وړتیا نښی بللای شو ،په همدی شان ویلای شم چې د لطیفه کبیر سراج ځای به ټول وخت د افغان ژورنالیزم په نړۍ کې تل پاتی او د ځلا وړ دی .

پوښتنه : هر هنر ځانته خپل سبک لري.آیا په خبرونوکې هم ځانګړې سبک شتوالی لري او که نه، په لنډه توګه معلومات راکړئ؟

ځواب : بلی د ژورنالیزم په پراخه لمن کې هره برخه یې ځانته بیلی ځانګړتیاوې لري او د خبرونو ویل هم یو د دې پراخ ډګرنه یوه ډیره اړینه او مهمه برخه ګڼل کیږي ، ځکه په خبرونو کې د ویاند او اوریدونکي یا لیدونکو ترمنځ د مستقیمو اړیکو ، ربط او تړون وجه ده ،نو پکار ده چې دا اړیکی داسې وسائل شي چې د دواړو لپاره د زغم او حوصله ځای پاتې وي ، نو همدا خبره په خپل وار د ویاند د هنر او سبک بیان دی .

پوښتنه : د یو ښه او نوښتګر ویاند بریالیتوب په څه کې وینئ؟

ځواب : د یو بریالي او نوښتګر ویاند د بري په اند باید لومړی د ویاندی پر ډول وړ.غیږو چې هغه په رادیو او یا په تلویزیون کی ویاندي کوي ، د رادیو لپاره د یو ښه ویاند بری دهغه د پوهی ، ښه ږغ او د جملو په ښه ادا کی نغښتی دی ، خو په تلویزیون کې د پورتنیو ښیګڼو په ځنګ کې د ویاند د شخصیت او ظاهری بڼه هم رول لري ، ځکه په ټولنه کې د ویاند اجتماعي ،سیاسي جوړښت د ټولنی په وګړو ځانته تاثیر درلودلای شي.

پوښتنه : تاسې د یوې تکړه ویاندې په توګه نطاقي چې د ښځو او نجونو لپاره یوه ښکلې اوسپیڅلې دنده ده، څه ډول ارزوئ؟

ځواب : زما په اند هره دنده هغه وخت خپله ښکلا ساتلی شي چې د لاسته راوړلو او سرته رسولو لپاره یې ریښتنې هڅې او هاند تر سره شي یا په بله ژبه هره دنده بې له زحمته او کوښښه لاس ته نه راځي ،خو په ځنګ کې یې د انسان ذوق او مینه د ټولو په ځنګ کې هم لویه ونده درلودلای شي.

داچې تاسو په مشخصه توګه نطاقی د ښځو او نجونو لپاره دیوې سپیڅلې او ښکلې دنده بللی ده ،تر یو حده ستاسو سره هم نظره یم خو په اصل کې دا دنده په کومه سره د ښکلا نه برخمنه کیږي تاسو په ټوله نړۍ کې ګوری چې نارینه او ښځې په کومه د هیواد په ټولو برخو کې مساویانه ونډه لري ،نو شه به وي چې په ټولو اجتماعي ،بنسټیزو او سیاسي چارو کې د دواړو پر ګډون باندی تاکید وشي ،دلته به اجتماعي عدالت تامین شوی وي.

پوښتنه : د کومو شاعرانو شعرونه مو دیکلمه کړې دي، او دا را ته وویاست چې په دې وروستیو کلونو کې ، ولې ستاسې اواز د رادیوتیلویزیون په څپو کې نه دی پورته شوئ؟

ځواب : زه تر اوسه دیکلمه شوی شعر چې ثبت شوی وي نه لرم ،خو په ډیرو ناستو ، غونډو او فرهنګي خپرونو کي مي د محترم سلیمان لایق ، کاوون توفانی ، عبدالباری جهاني ،عبدالوهاب سرتیر ، قیام الدین الهام اشعار دیکلمه کړې دي ،او په راتلونکو کي خیال لرم چی په بړ غ کې د اشعارو دیکلمه ولرم .

له کومه ځایه چې زه هم د هیواد او هیوادوالو نه د شلو کالو راهیسي د جلا وطنی ترخی شپی او ورځی تیروم او ورسره د جرمنی هیواد په یو داسې ښار کې ژوند کوم چې د هیواد نه بهر تیلویزوني چینلونو او یا یې د نمایندګیو له څانګو نه لری یم نو همدا وجه ده چې د هغوی په خپرونو کې هم لاس رسي نه لرم .

پوښتنه : د کومو ویاندو نطاقي او دکلمه مو ډیره خوښیږي؟

ځواب : زه د خپلو ټولو همکارانو د بړغ او ویاندی سره مینه لرم خو د خدای بخښلی صایمه اکبر ، ډاکتر ثریا خادم، داکتر صاحب سلام جلالی ، سیف الرحمن ابراهیم خیل او نبی پاکطین او په دری ژبه کی د خدای بخښلی مهدی ظفر او شفیقه محمود حبیبی ویاندي مي خوښه ده. د اشعارو په دیکلمو کی مې د تورپیکی خادم سنګین ، سهیلا حسرت نظیمی او به دري کې د ډاکتر صاحب اکرم عثمان ، او فریده جان عثمان انوري شعري دیکلمې مي خوښي دي .

پوښتنه : ستاسې په اند په نطاقي کې د مسلکي کورسونو زده کړه او لوست دیو ویاند په پیاوړتیا او امکاناتو باندې څه اغیز لري؟

ځواب : زما په اند د ویاندی مسلکي کورسونه د هر ویاند د پیاوړتیا لپاره لازمي ده په تیره په اوسنیو شرایطو کې چې د هیواد ډیر ویاندان غیر مسلکي دي او د ډیرو ستونزو

سره دندی سرته رسوي نو ددوی لپاره هم په کورسونو کې ګډون او هم د ځینو لنډ مهالو عملي ونډی لپاره د سیمی نژدی هیوادو ته د تجربوي سیمنارو او ورکشاپو کې د ګډون او د اسانتیاوی برابرول یو ضروري کار بولم.

پوښتنه : نطاقي او ژورنالیزم پخپل منځ کې څه اړیکې لري، یو ویاند( نطاق) کومو ژورنالیستیکي اصولو او مقرراتو ته باید پاملرنه وکړي؟

ځواب : نطاقي د ژورناليزم يوه برخه ده همدا نطاقان دي چې د ټولنی ټولنيزې ،بنسټيزې او سياسي پيښې ،غوښتنې او خبرونه د ټولنې تر غوږه رسوې او يا په بل بيان د دولت ژبه ورته ويل شوې ده.

کوم مهم ټکي چې بايد په نطاقي کې مراعات شي هغه ، د حقيقت بيان دی او د نطاق سپيڅلتيا هم دهغه په بې طرفي کې ده .دا د ژورناليزم موازين اومقررات دي.

پوښتنه : په هغه وخت کې چې تاسې په راديو او تيلويزون کې دنده درلوده، کومې برنامې مو خوښيدلې، او اوس مهال د راديواو تيلويزونونو کومې خپرونې ستايې؟

ځواب : ما هغه وخت چې په راديو او تيلويزيون کې دنده درلوده د هغه وخت د شومه دم انګازی ، راديويي مجله ، تيلويزيوني مجلی ، د ځوانانو ، د ښځو او ټولنی ،د ماشوم ، او د ذهنی مسابقو خپرونی می خوښيدلې .

پوښتنه : ولې تاسې د راديو تيلويزيونونو سره په تيره بيا هغه راديو تيلويزيونوسره چې په بهر کې فعالتونه لري مرسته نه کوئ؟ ايا د دغو راديوتيلويزنونو مسوولينو تاسې ته بلنه درکړئ ده او که نه ؟؟

ځواب : د مرستي نه مو مطلب حتما همکاري ده ، دليل يې دا دی چې دا تيلويزونونه شخصي دي او خپل خاص پروګرام او کړنې لري او په هغو هيوادو کې چې دوی نشرات لري زما لاس رسی ورته مشکل دی او بل هر انسان خپل ذوق او سليقه لري هغه پدې معني چې زه د هغو د ډيرو نشراتي کړونو سره هم ږغي نه لرم دا هغه دليل دی چې نه هغوی راسره تماس نيولې دی او نه هم ما.

پوښتنه : په هيواد کې دننه او بهر يو شمير راديويي او تيلويزوني خپرونې او پروګرامونه په ډيره ټيټه کچه خپريږي، او يو شمير نطاقان او د پروګرامونو پر مخ وړونکي د بيلابيلو برنامو سره بوخت دي، چې د پوره مسلکي زده کړوڅخه برخمن نه دي، تاسې د يوې مجربې ويياندې په توګه دا نيمګړتياوې څرنګه څيرئ؟

ځواب : دا ټولی نيمګړتياوی زه له يوی خوا د هيواد د اوږد مهاله سياسي پيښو او جګړو له وجهی او بل دا چې بهر ميشتی افغانان د لږو امکاناتو په لرلواو د مسلکي کسانود نشتوالی له کبله يادولی شو دا هغه ټکي دي چې خپرونې يې په کښته کچه خپريږي اوله بله پلوه دننه په هيواد کې د ډيرو راديو ګانو او تيلويزوني کانالونو نه فعالول او ورسره د هغو ځوانانو يا اشخاصو جذبول چې هيڅ پدی اړه مسلکي پوهه نه لري دا ټول هغه عوامل بلل کيدای شي چې خپرونی په ډيره ټيټه سطحه جوړوي او نشروي.

پوښتنه : مهرباني وکړې د خپل ادبي اوفرهنګي ژوند خوږې او ترخې خاطرې را سره شریکې کړئ؟

ځواب : خوږه خاطره می هغه وو چی د خپلی پوهنځی د یوی فرهنګي خپروني له لاری چې زموږ د پوهنځی د محصلینو له خوا جوړه شوی او ما یې ویاندي کوله د هغی خپروني نه مي د هغه وخت رادیو او تیلویزیون ته لاره اواره کړه غواړم یو څه وضاحت ورکړم ، د ټولو پوهنځیو و خپرونو ته به د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزارت ځینو لوړ و منسیبونو به برخه اخیسته په همدی لړ کي زموږ د خپرونی میلمه د هغه وخت د وزارت د نشراتو ریس محترم داکتر صاحب اکرم عثمان وو او زه د هغه له خوا د ویاندی لپاره غوره شوم او څو ورځی وروسته تر یو ازموینې چې د ویاندو د غوره کولو لپاره جوړیدل زه هم بریالی شوم او خپله همکاري مې پیل کړه چې دا زما په ژوند کی یو دهغو خوږو یادونه ده .

ترخه خاطره مې هغه وخت وه چې یوه شپه د خبرونو د ویاندی دنده زما وه چې د تیلویزیون له لارې خبرونه ووایم ،معمول وو چې ویانده به د خبرو اخیستو او یو ځل ویلو لپاره نیم ساعت وړاندی د خبرونو دفتر ته تلله زه هم لاړم او خبرونه مې وویل او لس دقیقی د خبرو و پیل ته پاته وې چې د هغه وخت د تیلویزیون د نشراتو ریس محترم عبدالله شادان د تیلویزیون د نشر ستدیو ته راغی او په ډیر عجز یی راته وویل :

زرغونه جان به امر صدراعظم صاحب شما امشب حق خواندن خبر را ندارید و اخبار را به شریفه جان پاڅون بسپارید و خودت به عوض شریفه جان اخبار رادیو را بخوان !!! واقعا د هغی شپی نه وروسته بیا زه د تلویزیون له خبر ویلو نه منع شوم او تر هغو چی د ګران هیواده راووتلم ، دا زما په ژوند کی ډیره بده ، ترخه او نه هیریدونکې خاطره وه او ده د ویاندی په نړی کی ...

پوښتنه : راته ووایاست، چې ولې مو د مهاجرت او پردیسی لاره وټاکله، او اوس مهال د کومو ټولنیزو، ادبي او فرهنګي فعالیتونو سره بوخته یاست؟

ځواب : ماهغه وخت خپل هیواد او هیوادوال په سرو سترګو پرېښودل چې پر(۱۹۹۲) زیږدیز کال کې د داکترصاحب نجیب الله د دولت په وړاندي او د هغه وخت د ملګرو ملتنو د پروګرام په وړاندي خاینانه عمل تر سره شو او کوم کسان چې د هغه وخت دقانوني دولت پر ځای راغلل په لومړی سر کې یې له څو ورځو نه وروسته ښځوته د کور د ناستی امر وکړ او هم په کابل او ټول هیواد کې د جګړی اور بل او د کابل اوسیدونکو د ځان او کورنۍ د ژوندي ساتلو لپاره بله لاره بې له وتلو نه درلودله.

د کابل ښار ټول دولتي دفاتر ،سيمی او منطقی دمرګ د ډلو او ټپلو لپاره د چور او چپاول په ميدان واوښت ،هره کوڅه ،هره سيمه د مرګ او نيستی د ډاړه مارو په لاس ورغلل دوی نه پر انسان او نه پر حيوان زړه سوئ د شپی او ورځی سری مرمی اوريدلی ، کورونه او ښارونه د مړو او زخميانو نه ډک وو چا دا موقع نه درلوده چې حتی خپل مړی ښخ کړي ،څوک يوی خوا او څوک هم بلی خواته لالهانده روان وو ، د هغو لالهاندو د ډلی نه يوه هم زما کورنۍ وه چې په مجبوريت او د ځان او اولادو د ژوندي ساتلو په هڅه مو، ګران خو ربړيدلی ،سوځيدلی او ژوبل سوی وطن پريښود ... او دا دی تر شل کاله زيات د هيواد نه ليری د جرمنی په هيواد کې ژوند کوم او د هغی ورځی بيا تر اوسه مې د افغانو ښځو لپاره د خوځښت شورا د نورو منورو او فعالو ښځو په ګډون جوړه کړئ او له دوو کالو راپدی خوا مو دا شورا د اروپايي هيوادو په سطحه بيا هم د افغانو ښځو د ږغ د پورته کيدو لپاره فعاله ساتلی ده ورسره مې په اروپايي هيوادو کې د ډيرو فرهنګي کړيو سره هم ارتباط ساتلی ، د افغانو ښځو د پوهاوی ،د تاوتريخوالی ، د ښخو دنړيوالی ورځی ،دافغاني ټولنې دملي او نړيوالو ورځو لمانځل ،په سيمنارو ، محافلو کې د ويناوی او يا برخه والی په توګه برخه اخيستنه د افغانو ښځو لپاره مضامين ، کله کله د ځينو ادبي ټوټو په ليکلو ،په لس هاوو راديويي او تلويزيوني خپرونو کې د افغانو ښځو د ژوند په اړه مرکې او د افغانانو په تيره بيا د مهاجرو افغانانو سره د هم ږغی لپاره د مظاهرو په جوړولو د افغانانو ږغ پورته کړی دی ،ورسره مو د افغانو ښځو د ژوند نه د انځورونو د شکاره کولوپروګرامونه ترتيب کړې دي او اوس مهال هم په اروپايي هيوادونو کې د افغانو ښځود خوځښت د فعاليتونو لپاره په فيسبوک کې يوه پاڼه لرو چې مسووليت يې زما دی همدا ډول د ډيرو انټرنيټي سايټونو سره د ليکلو همکاري هم لرم.

پوښتنه : تاسې د يو ادبي او فرهنګي ستې په توګه د اوسني کړکيچنواو تراژيکو حالاتو اغيز پر علمي، ادبي او فرهنګي فعاليتونو څه ډول څيرئ، اوپوهانو، ليکوالواو شاعرانو ته د دغو حالاتو په اړه څه وړانديزونه لرئ؟

ځواب : زموږ هيواد او هيوادوال د يو ناغوښتلي او نابرابری جګړی د اور په لمبو کې سوځيدلی انځور دی چې د ټولو بنسټيزو خرابيو سره يې زموږ د ژوند پر ټولو اړخونو ډير بد اثر او زيان را رسولی دی په تيره بيا زموږ د هيواد جګړه چې سيمه ايز او نړيوال جاسوسي کړيو په مستقيم او غير مستقيم ډول اغيزه درلوده ،نو ټول ادبي او فرهنګي، او علمي فعاليتونه يې تر خپل اثر لاندی يا بيخی او يا نيمايی تر خپل سيوری لاندی راوستلي دي نو زما وړانديز خپلو فرهنګي کړيو ، شاعرانو ، ليکوالانو او پوهانو ته دا دی چې دوی په افغاني انساني او اسلامي هوډ د قلم څخه د جګړی د بنديدو لپاره کار واخلي ځکه په يوی ټولنی کې فرهنګي کړی که يو لاس او يو موټی مبارزه پيل

کړي نو په یقین سره ویلای شم چې تر ډېره حده به د قلم مبارزه د سلاحو په وړاندې مثبت او ګټوره نتیجه ولري .

ځکه په هر هیواد کې چې د ناپوهې کچه ډېرېږي نو په هم هغه اندازه بدبختي هم خپل سیورى د هیواد پر ټولو چارو خپروي .

پوښتنه : ستاسې پیغام د یوې تکړه ویاندې په توګه هغه ځوانانو ته، چې په هیواد کې دننه او بهر د ټولنیز، ادبي اوفرهنګي فعالیتونو سره بوخت دي څه دى؟

ځواب : زه د هیواد ټولو ځوانانو ته که په هیواد کې دننه او یا بهر دي دا هیله څرګندوم چې په ټول قوت او توان سره د یووالي ،ورورۍ او یو موټی افغانستان لپاره هڅه او هاند وکړي، ځکه که ځوان نسلونه د کرکې ،دښمنۍ ،ژبنیو ،قومي او مذهبي تضادونو نه ځانونه پاک او منزه کړي او دملي وحدت او یوالي لپاره خپل ټول توان او انرژي نه ګټه پورته کړي.نو هله به موږ د نیکمرغۍ پوړۍ ته ورسیږو.

پوښتنه : په هیواد کې دننه او بهر ستاسې پیغام دیوې ادبي او فرهنګي شخصیت په توګه د ژورنالیستانو ټولنو ته څه دى؟

ځواب : له بده مرغه چې زموږ به هیواد کې دى ټپل شوى جګړى د هیواد ټولو برخو ته داسي تاوانونه رسولي چې ساری یې په نړۍ کې نه لیدل کیږي ، نو دې حالت دهیواد په دننه او بهرکې د ژورنالیزم او ژورنالیستی کړیو او ټولنو باندی هم خپل ډیر شوم اثر شیندلی دی ، یا خو دا ټولنی نشته او که دی هم د هغوی اثرات چندانی نه احساسیږی، پکار ده چې ددې حالت نه دوتلو لپاره یو ټولنیز ژورنالیستي مرکز جوړ شي چې ټولی رسنی د هغه مرکزه خپل ورځنی فعالیتونه تنظیم کړي ،موږ او تاسو ته معلومه ده چې له بده مرغه دا لګیدلی اور چې زموږ په هیواد کې تازه ساتل کیږي ددې اور لمبه د ژورنالیستانو خواته هم څرمه ده او په همدی څو ورځو شپو کې موږ دډیری بدی پیښی شاهدان وو هغه د یو ژورنالیست او د هغه د کورنی تباهي چې ټول افغان ملت یې وځوروی او هره ورځ موږ ددوی د ځورولو او ټکولو شاهدان یو.

پوښتنه : تاسي د یوې روڼ اندې میرمنې په توګه زموږ په هیواد کې د ژوند په سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، ادبي او فرهنګي ډګر کې د ښځو مقام او منزلت څه ډول ارزوئ؟

ځواب : له بده مرغه زموږ په هیواد کی پدی ورستیو لسو دولسو کلنو کې تر هر وخت د افغانو ښځو ژوند د کړاونو ، زړه دردونکو حالاتو سره مخ شوی دی چې بیلګه به یی د نړی په ټولو هیوادوکې بې ساری وي .

افغاني ښځې د ظلم او وحشت سره هره ورځ لاس او ګریوان دي ورځ تر بلی دا د

اسارت کړی د دوی ژوند د وحشت او بر بریت خواته بیایي .

د افغانو ښځو لپاره افغاني ټولنه اوس یوه دویری او وحشت فضا رامنځته کړی چې ساری یې لیدل شوی نه وو ،له بده مرغه هره ورځ دوی د ډول ډول تیریو او قربانیو ښکار دي ، د هغوی سنګسارول بې له محکمې له فیصلې او قانون نه ، د غوږ ، پزی ،شونډی پریکول ،د ځان د غړو غوڅیدل په ظالمانه ډول ،زندی کول ،په تبراو تیشی باندی وژل ، پر وړو نجونو تیری ،دښځو او وړو نجونو ودیدل بې د هغوی له خوښی ، د بدو په وړاندی د نجونو او ښځو ورکول ، د حیواناتو سره د ښځو تبادله د وړو نجونو او ښځو خرڅلاو په ګاونډیو اوعربی هیوادو کې او په زرهاوو نورې ترخې پیښې چې قلم یې له لیکولو شرمیږي .

پوښتنه : د ادبي اوفرهنګي ژانرونه او د ډلیزو رسنیو اغیز او نقش د ښځو په وړاندې دتاوتریخوالي او ترهګرۍ په له منځه وړلو کې څه ډول څیرئ؟

ځواب : زما په اند د افغانو ښځو د ژوند ډول ډول مشکلات او تاو تریخوالي علت د ډله ایزو رسنیو ،ادبي ،فرهنګي کړیو نقش بیخي ضعیفه او یا خو هم نسته نو په کار ده چې د روحانینو ،دیني علماوو ،ښونځیو ، پوهنتونونو،اجتماعي ، فرهنګي ،سیاسي ،مدني ټولنو او دښځو د وزارت ګډ کاري پلان جوړ او په عمل کې ترینه کار واخیستل شي ، ورسره باید په هیواد کې د بیکاری د کچی راټیټول ،د ښځو دسواد ، زده کړې او روزنی لپاره په عمل کې کار کول او د کورنیو د پوهی دلوړولو لپاره کار ،هڅه او هاند دا ټول هغه عوامل دي چې کولای شي په راتلونکي کې ددې ټولو بدبختیو لپاره د پای ټکی وګڼل شي.

پوښتنه : ستاسې پیغام هغو ښځو ته، چې په هیواد کې دننه په ډیرو غمجنو، تراژیکواو کړکیچنو حالاتو کې ژوند کوي څه دی او د ژغورلو لاره یې په څه کې وینئ؟

ځواب : د لوی خدای څخه په خپل هیواد کې د یو واقعي ، زړسواند او د هیوادوالو په درد پوه سیاسي زعامت هیله لرم چې لومړی هیواد ته په خپل معقول هر اړخیز سیاست هیواد ته د سولی هیلی پلی کړي او ورسره د افغانو باهمتو ،نومیالیو ،سربښندونکو ، د مینی ، محبت درلودونکو اورنځیدلو ښځو ژوند ته پاملرنه او ددوی د ژغوررولو لپاره علمي او عملي ګام پورته کړي .

او زه په اروپایی هیوادو کی د افغانو ښځو د شورا په استازیتوب زما د ګران هیواد ربړیدلو خو د لوړ همت لرونکو ښځو ته داډ ورکوم چې موږ به تر هغه وخته چې توان لرو د دوی د خلاصون ، پرمختګ او بسیا ژوند لپاره خپل هوډ تل پاتی وساتو .

اغلې زرغونه ژواک!

ستاسې نه ډېره مننه، چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل. تاسې ته خوشاله، سوکاله او برمیاله ژوند غواړم.

ډیر محترم او ګران انجنیر صاحب عبدالقادرمسعود ستا د دغې لوړې پیرزوینې نه زما په اند او د افغان فرهنګ د هڅو او هاند نه چې شپه او ورځ یې په ډېر صادقانه توګه سر ته رسوئ په ډېره مینه شکریه او مننه ادا کوم.خدای مو راته ژوندی، سرلوړی او د اوږد ژوند خاوند لره.

(۲۰۱۴/۴/۱۴)زیږدیز کال

په ډېر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادرمسعود